هېڅکله رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د دوو کارونو ترمنځ د ټاکلو واک نه دی ورکړل شوی مګر دا چې د دواړو ترمنځه يې اسان غوره کړی دی، پدې شرط چې ګناه به نه وه، که چېرته به ګناه وه نو تر ټرلو لرې انسان به ترې دی و

له أم المؤمنين عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی وايي چې: هېڅکله رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د دوو کارونو ترمنځ د ټاکلو واک نه دی ورکړل شوی مګر دا چې د دواړو ترمنځه يې اسان غوره کړی دی، پدې شرط چې ګناه به نه وه، که چېرته به ګناه وه نو تر ټرلو لرې انسان به ترې دی و، او هېڅکله رسول الله صلى الله عليه وسلم په هېڅ شي کې د ځان لپاره غچ نه دی اخيستلی مګر دا چې د الله حرمت به د پښو لاندې شو، نو د الله لپاره به يې غچ اخيسته.

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

ام المؤمنين عائشې رضي الله عنها د رسول الله صلى الله عليه وسلم د ځينو اخلاقو په اړه خبر ورکړی، او هغه څه چې هغې يې يادونه وکړه دا دي چې: هغه صلى الله عليه وسلم ته هېڅ کله د دوو چارو تر منځ د ټاکنې واک ندی ورکړل شوی، مګر دا چې هغه يې تر منځه (د امت لپاره) آسانه غوره کړې ده، خو چې اسانتيا يې د سرغړونې لامل نه کېده (که داسې به و) نو له هر چا به ترې هغه زياته ډډه کوله، او هغه مهال به يې سخت غوره کاوه. نبي صلى الله عليه وسلم هېڅکله د خپل ځان لپاره د شخصي غچ اخيستونکی نه و، بلکې بخښنه به يې کوله او (له خپل شخصي حق نه به) تېرېده مګر دا چې د الله حدود به تر پښو لاندې کېدل، نو بيا به يې يوازې د الله لپاره غچ اخيست، او د هر چا په پرتله به د الله لپاره ډېر غوصه کېده.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/6389